# دَ یوحنا رسُول دویم خط

## سلام

١ دا خط دَ مشر له طرف نه دے، اَؤ هغه میرمنے اَؤ دَ
هغے بچو په نُوم لیکلے کیږی چا سره چه زَهٔ رښتینی مینه
لرم، یواځے زَهٔ نه، بلکه ټول هغه څوک چه دَ حق نه خبر
دی، ٢ اَؤ دَ حق دَ خاطره چه په مُونږ کښے دے اَؤ تل تر
تله به په مُونږ کښے پاتے وی.

٣ دَ خُدائے پلار اَؤ دَ هغهٔ دَ زوئے عیسیٰ مسیح فضل،
رحم اَؤ سلامتی دِ په حقیقت اَؤ مینے سره په مُونږ کښے
پاتے وی.

## حقیقت اَؤ مینه

٤ زَهٔ په دے ډیر خوشحاله شوم چه مے واؤریدل چه
ستاسو ځنی بچی دَ حق په لار روان دی څنګه چه پلار مُونږ
ته حُکم کړے وو. ٥ اَئے خورے میرمنے! اوس زَهٔ درته
یو عرض کوم چه راځئ چه دَ یو بل سره مینه لرُو. دا خیال
مه کوئ چه نوے حُکم درکوم بلکه هغه یو دوباره دریادوم
کُوم چه مُونږ ته دَ اول نه راکړے شوے وو. ٦ اَؤ دَ مینے
نه زما مطلب دا دے چه مُونږ دَ خُدائے په حُکمُونو عمل
وکړُو. دا هم هغه حُکم دے چه تاسو له اول نه آؤریدلے دے
چه تاسو ته پکار دی چه په مینه کښے ژوند تیر کړئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ډېر فريبيان دُنيا ته راغلى دى چه دَ عيسىٰ مسيح په
جسم کښې دُنيا ته راتلل نۀ منى، داسې کسان لوئې
ټګماران اَؤ خردَجالان دى. ۸ تاسو خبردار شئ چه کُومه
خوارى چه مُونږ په تاسو کړې ده، هغه دِ ستاسو په سبب
ضائع نۀ شى بلکه تاسو دِ دَ هغې پُوره اجر بيا مُومئ.

۹ هر هغه څوک چه دَ مسيح په تعليم قائم پاتې نۀ وى بلکه
هغه پريږدئ، دَ هغۀ سره خُدائې نِشته، څوک چه دَ مسيح په
تعليم عمل کوى نو دَ هغۀ سره پلار اَؤ زوئې دواړه شته. ۱۰
که څوک درته راشى اَؤ دا تعليم درنۀ کړى نو هغه خپل کورته
مه پريږدئ اَؤ مه ورته سلام وايئ. ۱۱ ځکه چه هر هغه
څوک چه هغۀ ته سلام وائى، هغه دَ هغۀ په بدو کارُونو کښې
شريک دے.

## آخرى سلام

۱۲ ډېرې خبرې داسې دى چه زَۀ ئې تاسو ته ليکل
غواړم خو دَ هغې زَۀ په ليک کښې راوستل نۀ غواړم، خو
زَۀ دا اُميد لرم چه دربه شم اَؤ درسره به مخامخ خبرې
وکړم دَ دے دَ پاره چه زمُونږ خوشحالى پُوره شى.

۱۳ هغه خور چه خُدائې غوره کړې ده دَ هغې بچى تا ته
سلام وائى.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.